## مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
## د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: 51 (از 8 عقرب الی 15 عقرب 1392 هـ ش)

این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که توسط مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد تا نهادهای سیاست‌گذار استفاده نمایند.

---

## آنچه درین نشریه می‌خوانید:

### 1. له امريکا سره د پاکستان پراخېدونکې اړيکې او پر افغان جګړه د هغې اغېزې

- مشکل د افغانستان په سياسي مديريت کې دی، چې په تېرو کلونو کې له ترهګرۍ سره په مبارزه کې افغانانو زيات تلفات او زيانونه وليدل مګر فايده او ګټه يې اوس د پاکستان لاس ته غورځېږي

### 2. څلورمه درې اړخيزه غونډه او د سولې بې پايلې هڅې

- ولسمشر حامد کرزي او ورسره تېم يې د دريمې درې اړخيزې ناستې تر راستنېدو وروسته پر اسلام آباد تور ولګاوه چې ددې هېواد په زندانونو کې د بندي طالبانو په خلاصون سره د افغان سولې له بهير سره مرسته نه کوي او اسلام آباد هم دېخوا په خبر په افغانستان کې دخپل ازلي رقيب هند له مخ په پراخېدونکې ونډې څخه سر ټکاوه او د کابل چارواکې يې پدې تورنول چې د پاکستان په نسبت هند ته ډېره پاملرنه کوي.

### 3. نشست مثلث و گفتگوهای صلح

- سفر اخیر حامد کرزی به منظور اشتراک در چهارمین نشست مشترک سران سه کشور افغانستان، پاکستان و انگلستان با یک سلسله توافقات و فرمایشات همراه بود. رئیس جمهور کرزی در چهارمین نشست سه جانبه عصر روز سه شنبه هفته گذشته اجازۀ ملاقات با ملا برادر را از نخست وزیر پاکستان گرفت. درین نشست فیصله به عمل آمد تا هیأت از شورای عالی صلح افغانستان توفیق شرفیابی حضور ملا برادر فر مانده مشهور ووالی اسبق طالبان در هرات را حاصل نموده به آرزوی چندین ساله خویش برسند.

## له امریکا سره د پاکستان پراخېدونکې اړیکې او پر افغان جګړه د هغې اغېزې



افغانستان او پاکستان دوه ګاونډي هېوادونه دي، چې د دواړو امنیتي، اقتصادي او اجتماعي حالت په یو بل نېغ په نېغه اغېز لري، له همدې لامله که په یو لوري کې حالت خراب شي نو بل لوری هم خا مخا ترې اغېزمن کېږي او په دې وروستیو کلونو کې په دواړو هېوادونو کې شته نا امنیو دا خبره په ډاګه کړه، تر هغو چې په افغانستان کې امنیت او سوله رانشي نو ستونزمنه ده چې پاکستان دې هم له نا امنۍ څخه راووځي.

په داسې حال کې چې د افغان چارواکو په وینا د افغانستان او امریکا ترمنځ د امنیتي تړون پر سر یو شمېر ستونزې رامنځ ته شوې دي او په ظاهره داسې ښودل کېږي چې د دواړو هېوادونو چارواکي له یو بل څخه نا راضه دي، تر دې چې څه موده وړاندې د امریکا د سنا مجلس د پوځي خدماتو د کمېټې مشر هم له ولسمشر کرزي سره تر لیدو وروسته دېبرته ستنېدو په وخت کې وویل: چې که افغانستان په راتلونکې لنډ وخت کې له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک نه کړي نو ستونزمنه ده چې د امریکا مرستې دې ترلاسه کړای شي.

بلخوا، چې د امریکا او پاکستان ترمنځ له اوږدې مودې را پدېخوا ستراتېژیکو پوځي اړیکو او همکاریو شتون درلود، خو په وروستیو څو کلونو کې د بېلابېلو لاملونو په اساس دغه اړیکې یو څه د خرپړتیا لورې ته لاړې او پاکستان په افغانستان کې د امریکایي پوځونو پر وړاندې خپله اکمالاتي لاره وتړله چې له همدې لامله امریکا هم له پاکستان سره خپلې مرستې تر نامعلوم وخته پورې ودځنډولې.

په پاکستان کې د پارلماني ټاکنو په ترڅ کې د مسلم لیګ ګوند تر بریالیتوب وروسته، دغه هېواد په ډېرو برخو کې پر خپلو تېرو سیاستونو بیا کتنه وکړه چې په ترڅ کې یې په دې وروستیو کې د پاکستان لومړي وزیر نواز شریف د امریکا سره د خپلو اړیکو د بیارغولو او د مرستو د جلبولو لپاره امریکا ته سفر و کړ په یاد سفر کې نوموړي دګنو نورو موضوعاتو ترڅنګ د امریکایي چارواکو سره د هغو مرستو د بېرته ترلاسه کولو خبره هم مطرح کړه، چې ځنډول شوې وې او امریکایانو هم ، پاکستان ته د څه باندې یو ملیارد ډالرو ځنډول شوې مرستې د بېرته ورکړې اعلان وکړ.

یو شمېر خلک په دې اند دي، چې له پاکستان سره شوېو مرستو څخه په افغانستان کې د نا امنۍ په رامنځ ته کولو کې ګټه اخیستل کېږي او امریکا باید له پاکستان سره د مرستو کولو څخه ډډه وکړي.

خو د سیاسي چارو شنونکی، لیکوال او ژورنالست وحید مژده وایي، چې دا خبره چې د پاکستان سره د شوېو مرستو څخه په افغانستان کې د نا امنۍ په رامنځ ته کولو کې ګټه اخیستل کېږي، ځکه ناسمه ده چې په اوسني حالت کې پاکستان له سختو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، په هغه هېواد کې د برېښنا ستونزه چې د اوسني حکومت لپاره یو ستر ګواښ دی.

ښاغلی مژده زیاتوي "که پاکستان په افغانستان کې یو ډالر هم مصرف نه کړي دا نا امني به روانه وي تر هغو چې د سولې حالت ته ونه رسېږي ځکه که پاکستان هېڅ کار هم ونه کړي دا مشکل به دوام لري".

د مژده په خبره له پاکستان سره شوې مرستې په افغانستان کې له امریکا سره د هغه هېواد د همکارۍ د جلبولو لپاره ترسره شوې دي، ځکه د پاکستان له همکارۍ پرته په افغانستان کې د امریکا شتون ستونزمن کېږي، ځکه نو د مژده په شننه اړینه ده چې امریکا له پاکستان سره ښې اړیکې وپالي.

همدارنګه مژده پدې نظر دی چې که له افغانستان سره امنیتي تړون لاسلیک شي نو ددې خبرې معنی داده چې په افغانستان کې د پاکستان دریځ نور هم پیاوړی کېږي.

د سیاسي چارو ددغه شنونکي په وینا نواز شریف له امریکایي چارواکو سره د افغانستان د ټاکنو موضوع هم مطرح کړې ده، ځکه پاکستان په هېڅ صورت په افغانستان کې داسې ولسمشر نه شي زغملی، چې هغه دې د هند سره قوي اړیکې ولري او د پاکستان ګټو ته ژمن نه وي.

مژده په دې نظردی چې لدې امله چې امریکا پاکستان ته اړتیا لري ځکه نو په هېڅ صورت هم دا نه غواړي چې په افغانستان کې دې داسې یو حکومت رامنځ ته شي چې پاکستان پرې قانع نه وي.

نوموړی وایي چې د پاکستان د قناعت په نه شتون کې هغوی له امریکا سره مرسته نه کوي، چې په دې صورت کې بې پوځونه هم په افغانستان کې له خطر او ګواښ سره مخ کېږي.

د امریکا او پاکستان ترمنځ د اړیکو بیا رغول په داسې حال کې چې د افغانستان او امریکا اړیکې اوس د امنیتي تړون پر سر له یو څه ستونزو او کړکېچونو سره مخ ښکاري ،دوه هغه موضوعات دي چې له یو بل سره نېغ په نېغه تړاو لري او دا چې امریکا ولې په داسې یو حالت کې له پاکستان سره نژدې کېږي د ښاغلي مژده په اند دا ددې لپاره دي چې امریکا پر افغان دولت فشار راوړي، تر څو د امنیتي تړون د لاسلیکولو لپاره تیار شي او هغه زر ترزره لاسلیک کړي او له پاکستان سره د مرستې معنا هم همدا ده چې که افغانستان دا تړون لاسلیک نه کړي نو په سیمه کې نور هېوادونه هم لکه پاکستان شته چې د امریکا د هغوی له لارې خپل اهداف ترلاسه کولای شي .

د سیاسي چارو یو شمېر کار پوهان بیا په دې اند دي چې پاکستان له خپلې زیرکتیا او فرصت څخه په ګټې اخېستلو له امریکا سره خپلې اړیکې بیا ورغولې او پر مخ یې د امریکا تړل شوې ببرته پرانستل شوې، د هغوی په اند دا افغانستان د حکومت کمزوري وه، چې ویې نه شو کړی له دوی سره آن شوې مرستې هم په سمه توګه ترلاسه کړي، مګر نور کولای شي خپلې ځنډېدلې مرستې ترلاسه کړي، چې پاکستاني چارواکي یې ښه نمونه ده.

د ولسي جرګې پخوانی غړی او د ولسمشرېزو ټاکنو یو نوماند سید اسحاق ګیلاني هم همدا نظر لري او زیاتوي چې د څه باندې پنځوسو ملکونو په شتون او د امریکاد بې سارو مرستو او دوستۍ په نتیجه کې هم افغان چارواکي په دې ونه توانېدل چې ددې مخنیوی وکړي چې ددې هېواد د سرنوشت تصمیمونه په بل ملک کې ونه نیول شي.

د ښاغلي ګیلاني په اند د دا افغان حکومت کمزورتیا وه او ده چې نن پاکستان په دې امید دی چې د افغانستان د برخلیک پرېکړه به په اسلام اباد کې کېږي.

ګیلاني زیاتوي "دا د افغان حکومت لپاره د شرم ځای دی، چې د دوی برخلیک په اسلام اباد کې ټاکل کېږي."

سیداسحق ګیلاني لدې هم وېره لري چې امریکایان به بیا هغه اشتباه تکرار کړي چې دده په خبره د مجاهدینو په وخت کې یې وکړه او له امریکا هیله لري چې د افغانستان برخلیک بل چاته ونه سپاري، ځکه دده په اند به دا کار نه یوازې د افغانستان او پاکستان لپاره چې آن د ټولې نړۍ لپاره ښه پیغام ونه لري .

ښاغلی ګیلانی وایي چې هر څومره ژر کېدای شي له امریکا سره باید امنیتي تړون لاسلیک شي تر څو د هغوی حضور دلته یقیني او د افغانستان سرحدونه په امن شي.

ددې پوښتنې په ځواب کې چې په تېرو دولس کلونو کې د ۵۷ هېوادونو په شتون کې بهرنیو پوځیانو د افغانستان له سرحدونو څخه دفاع ونشوای کړای، نو یوازې د امنیتي تړون په لاسلیک سره به امریکا د افغانستان له سرحدونو څخه دفاع وکړای شي؟ ښاغلی ګیلاني وایي چې افغان حکومت تر اوسه له ټول ملت څخه د امنیتي تړون محتویات پټ ساتلي دي او افغانان د تړون په اړه هېڅ ډول معلومات نه لري نو که چېرته په یاد تړون کې د افغانستان د سرحدونو څخه دفاع د امریکایي ځواکونو وظیفه نه وي بلل شوي نو دا به د افغانستان د خلکو سره یو ستر خیانت وي.

د ولسي جرګې بل غړی اود چارو شنونکی محمد داوود کلکاني بیا وایي چې په افغانستان کې هر ډول نا امني د پاکستان په امنیت نېغ په نېغ اثر لري ځکه د افغانستان له نا امنیو څخه هېڅکله ګاونډیان نه شي خوندي کېدای ځکه نو که پاکستان له سالم فکر څخه ګټه واخلي ،یقیناً چې نړیوال محبوبیت به ترلاسه کړي.

ښاغلی کلکاني زیاتوي "مشکل د افغانستان په سیاسي مدیریت کې دی، چې په تېرو کلونو کې له ترهګرۍ سره په مبارزه کې افغانانو زیات تلفات او زیانونه ولیدل مګر فایده او ګټه یې اوس د پاکستان لاس ته غورځېږي."

دی زیاتوي چې دا په همدې معنا ده، چې افغانستان سالم سیاسي مدیریت نه لري، افغانستان د خپل عصر زرین فرصتونه له لا سه ورکړل او افغان دولت ونه شو کړای، چې له دې طلایي فرصتونو ګټه واخلي، ځکه افغانستان هم نړیوال ځواکونه او هم نړیوال کومک کوونکي هېوادونه په خپل څنګ کې لرل، مګر و یې نه شو کړای، چې له هغوی څخه په سمه توګه استفاده وکړي ".



**دملي ائتلاف غړی او د سياسي چارو شنونکی انجنير محمد عاصم** وايي چې پاکستان په هيڅ صورت د افغانستان پر وړاندې خپل سياستونه په آسانه نه بدلوي، هغه وايي چې د نواز شريف او اوباما په ملاقات کې د افغانستان د موضوع په سر خبرې شوي دي خو دا خبرې هيڅکله ددې لامل نه کيږي، چې پاکستان دې د افغانستان پر وړاندې خپل سياست په ډراماتيک او يا بېړنۍ توګه بدل کړي.

ښاغلی عاصم زياتوي"ناټو او امريکا په تېرو دولسو کلونو کې په دې ونه توانېدل، چې په هغه ډول چې د افغانانو اميد وو، سولې ته لاره هواره کړي، او ددې سره سره يې افغانان له ګڼو ستونزو سره مخ کړل.

نوموړی زياتوي چې : امريکادلته د خپلې خوښې پايلو په لاس ته راوړلوکې ناکامه شوه نو ځکه يې له پاکستان سره يو څه ګړندۍ خبرې وکړې. خو انجنير عاصم داهم وايي چې که چېرته امريکا په رښتيا هم له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې د سولې غوښتونکي وي نو پاکستان بايد دې ته چمتو کړي، چې افغانستان ته د سولې او ثبات په راوستلو کې د زړه له کومې او صادقانه همکاري و کړي.

د ملي ائتلاف د ياد غړي په اند که نړيواله ټولنه او امريکا په جدي توګه په پاکستان فشار راوړي، نو پاکستان مجبور دی چې په افغانستان کې د سولې په را وستلو کې تر يوه حده همکاري وکړي، ځکه سوله نه يوازې د پاکستان بلکې د ټولې سيمي په ګټه ده، خو متاسفانه پاکستان په افغانستان کې له نا امنۍ څخه نورې ګټې ترلاسه کوي، چې د هغو ګټو د ترلاسه کولو لپاره نړيوال فشارونه هم زغمي.



## ځلورمه درې اړخيزه غونډه او د سولې بې پايلې هڅې

*احمدضياء رحيمزی*

له نن څخه نهه مياشتې وړاندې د روان زېږديزکال د فبروری په مياشت کې هم د لندن په يوه کليواله سيمه کې د همدې درې اړخيزې ناستې دريم پړاو په داسې وخت کې ترسره شوی و چې د پاکستان د ولسمشرۍ چارې د دې هېواد د خلکو ګوند اړوند يوه نامتو سرمايه دار آصف علي زرداري په غاړه درلودې، هغه مهال د بريتانيا لومړي وزير ډېوېډ کامرون د دريمې ناستې په پای کې ويلي و چې په راتلونکو شپږو مياشتو کې به افغانستان او پاکستان دواړه دسولې او پخلاينې يوې عملي پايلې ته د رسېدو په موخه ،عملي ګامونه اخلي.

خو دادی د شپږو مياشتو پرځای له هغه مودې څخه آن نهه مياشتې تېرې شوې او دادی ددې لړۍ ځلورمه ناسته هم په داسې حال کې جوړه شوه چې د آصف علي زرداري پرځای ددې هېواد نوی ټاکل شوې لومړی وزير ښاغلي نواز شريف پکې ګډون درلود،د هغه دريمې درې اړخيزې ناستې د پايلو د عملي کېدو کومه نښه نښانه ، نه تر سترګو کېږي.

که څه هم آن هماغه نهه مياشتې وړاندې هم چې کله ډېوېډ کامرون د افغانستان او پاکستان له ولسمشرانو سره د درې اړخيزې ناستې له ترسره کولو وروسته څرګنده کړه چې حامد کرزی او آصف زرداري د افغانستان او پاکستان د ګډې پولې په دواړو خواوو کې د سولې او ثبات د ټينګښت په موخه په خبرو اترو کې د سيمه ييزې همکارۍ يوې نوې کچې ته رسېدلي، او په تېره بيا چې د دريمې ناستې د پای په رسمي خپره شوې بيان کې وويل شول چې ټولو اړونده لوريو ژمنه وکړه چې د سولې د يوه تړون لپاره به په شپږو مياشتو کې زمينه برابروي او ددې لپاره به ټول لازم ګامونه اوچتوي، د سولې په اړه دواړو ګاونډيو هېوادو د مشرانو او حاکمانو (افغانستان اوپاکستان) د بشپړې بې باورۍ سره سره بيا هم دا تمه پيدا شوه چې کېدای شي داخل د دواړو هېوادو تر منځ د تاو تريخ والی فضا لږ را ښه شي او نور د جګړې په اور کې سوي دواړه مظلوم ولسونه لږ د آرام ساه واخلي، خو متاسفانه چې کله دواړه ولسمشران خپلوخپلو پلازمېنو ته ولاړل، بيا يې په لندن کې د ډېوېډ کامرون په وړاندې ټولې کړې ژمنې هېرې کړې، او دسولې په اړه يې د بېړنيو کړنو هغه ژمنې چې هلته يې کړې وې، له ياده واېستې.

ولسمشر حامد کرزي او ورسره ټيم يې د دريمې درې اړخيزې ناستې تر راستنېدو وروسته پر اسلام آباد تور ولګاوه چې ددې هېواد په زندانونو کې د بندي طالبانو په خلاصون سره د افغان سولې له بهير سره مرسته نه کوي او اسلام آباد هم دپخوا په څېر په افغانستان کې دخپل ازلي رقيب هند له مخ په پراخېدونکې ونډې څخه سر ټکاوه او د کابل چارواکي يې پدې تورنول چې د پاکستان په نسبت هند ته ډېره پاملرنه کوي.

اوس چې د دې لړۍ دځلورمې ناستې له پای ته رسېدو هم شا اوخوا يوه اونۍ تېره شوې ده، داسې نه ښکاري چې کابل ، اسلام آباد يا لندن دې وغواړي په رښتيا هم د افغان سولې له واقعي بهير سره کومه مرسته وکړي، لکه څه ډول چې د درې اړخيزو ناستو دلړۍ آجنډا ګونګه او مبهمه وي او د ځلور ځلو ناستو وروسته هم افغان ولس پر دې پوه نه شو چې پدې ناستو او جرګو کې څه وويل شول

او چا د سولې لپاره کومه حقیقي ژمنه وکړه ،دا هم نده څرګنده چې ګاونډیان او په تېره پاکستان په افغانستان کې د سولې راوستلو بهیر لا اوس هم دخپلو اوسنیو مسلم لیګي چارواکو په اعتراف دخپلو ګټو او ستراتېژیکو ژورتیاوو له زاویې ګوري، او که نه پدې اړه یې سوچ بدل شوی دی؟

بل خوا دکابل چارواکي له تېرې اوږدې مودې را پدیخوا د سولې پروسه په پاکستان کې د بندي طالب مشرانو په تېره بیا د ملابرادر له خوشي کېدو سره تړلې ښکاروي، چې د هېوادروان وضعیت، آن په خپله د طالبانو څرګندونې او د با خبره سیاسي شنونکو شنې، بیا د افغان حکومت ددې دریځ تر شا د کومې بلې پټې لوبې اومعاملې خبر داری ورکوي، چې که د څلورمې درې اړخیزې ناستې لاس ته راوړنه هم ( د هغه څه تر مخه چې رسنیو ته رسېدلې ) یوازې د ملابرادر سره دلېدنې او له هغه سره دخبرو اترو لپاره د افغان سولې شورا د یوه پلاوي له ورتګ سره د اسلام آباد د چارواکو موافقه وي، نو لا ښه څرګنده ده چې په دغه درې اړخېزو او څلور اړخېزو غونډو اوناستو کې څه ویل کېږي اوپایلې یې په څه ډول را برسېره کېږي.

## کرزی اجازۀ ملاقات با ملا برادر را از نوازشریف گرفت



سفر اخیر حامد کرزی به منظور اشتراک در چهارمین نشست مشترک سران سه کشور افغانستان، پاکستان و انگلستان با یک سلسله توافقات و فرمایشات همراه بود. رئیس جمهور کرزی در چهارمین نشست سه جانبه عصر روز سه شنبه هفته گذشته اجازۀ ملاقات با ملا برادر را از نخست وزیر پاکستان گرفت. درین نشست فیصله به عمل آمد تا هیأت از شورای عالی صلح افغانستان توفیق شرفیابی حضور ملا برادر فر مانده مشهور ووالی اسبق طالبان در هرات را حاصل نموده به آرزوی چندین ساله خویش برسند. به همین تر تیب به وزیران داخله هردو کشور(افغانستان وپاکستان) وظیفه سپرده شد تا بخاطر امنیت مرز های هردو کشور با هم مشوره نموده طور تدریجی به شناخت مرز ها طور غیر رسمی و غیر مستقیم صحبت مسافرت کنند و سفر نواز شریف به کابل که روز های نخستین اقتدارش انتظار برده مي شد نیز جزء از دست آورد هائیست که مي شود روی تأثیرات این دست آورد بر حل بحران افغانستان طور فشرده بحث نمود.

آقای سعیدی در مورد دیدار هیئتی از شورای عالی صلح با ملا برادر و مؤثریت آن در تأمین صلح در افغانستان می‌گوید: در معرفی و شخصیت دهی به ملا برادر از طرف حلقات درون نظام خیلی مبالغه صورت گرفته است، ملا برادر در هیچ زمانی معاون ملا عمر نبوده و در تصمیم گیری های سیاسی چندان نقش نداشته، او یک فر مانده به سطح پائین تر از ملا فاضل و ملا داد الله بوده است ولی زمانی والی ولایت بزرگي چون هرات بوده این که بعد از شکست طالبان و فرار مجدد به پاکستان لقب معاون ملا عمر را گرفته، بزرگ سازی جعلی و دروغین است که به اهداف این بر نامه سازان نمی توان به آسانی پی برد. لذا ملا برادر از رهگذر موقف معاون و تصمیم گیر نیست.